# جنګي سپي


Ketabton.com

لیکوال : محب الله زغم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پېژندنه :


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | جنګي سپی |
| لیکوال : | محب الله زغم |
| انځورګر : | الحاج عبدالهادی تپاند |
| اوډون : | حفیظ الله یاور |
| د چاپ کال : | ۱۳۸۷ |


www.Ketabtoon.net

## ډالی :

خپلو زامنو محبوب الله ، روهین او رښتین ته یې په مینه ډالۍ کوم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنگي سپی د خپل کور مخې ته ولاړ و. د هغه زنځیر په ونې پورې تړلی و. مخې ته یې په یوه لوی غاب کې یوڅه غوښې او هډوکي پراته وو. څنګ ته یې د تالي په تل کې شېدې پاتې وې. یوه کوچنۍ سپۍ تالي ته ورنژدې شوه. خپله ژبه یې راایستلې وه. جنگي سپي خپله لویه خوله خلاصه کړه ، تېرې داړې یې ښکاره شوې. هغه وغرېده: څه کوې ؟



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپۍ لکۍ و ښوروله او ویې ویل : وروړې یمه ، شیدو ته مې زړه کیږي.

جنګي سپي وویل : ځغله ، مفت خوره. خاوند خو مو هسې چا ته شیدې نه ورکوي.

وړې سپۍ په حیرانۍ وویل : نو څنګه یې ورکوي ؟

جنګي سپي خپله پلنه غاړه هسکه کړه او په ډډ غږ یې وویل : زه خویې همداسې ګټم ، همداسې یې څټم. ها بله ورځ مې په جنګ کې ورته بلا ډېرې پیسې وګټلې. ته خو یې هسې د خپلې لور د ساټ تیرۍ لپاره راوستې یې که نه ته خو هیڅ په درد نه لګیږې.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپی ورته زاری وکړې خو هغه ورته شیدې ورنکړې.

یوه ورځ سهار د هغوی څښتن دجنګي سپي زنځیر خلاص کړ او سراچې موټر ته یې پورته کړ. هغه په موسکا سپی ته وویل: دا دی ما بیا جنګ ته بیایې ، زه به بیا ورته پیسې وګټم. تا غوندې مفت خوره خو نه یم.

سپی د شیدو تالي ته وکتل او په زړه کې یې وویل چې کاشکې زه هم غټه وای او په جنګ کې مې پیسې ګټلای.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمې مهال موټر انګړ ته راننوت. سپی یې راکښته کړ. د هغه ورمېږ په وینو سور و. سر یې ټیټ نیولی و. لنډه لکۍ یې ځړېدلې وه. سترګې یې سرې او تنګې وې. ژبه یې راوتلې وه او ژر ژر یې سا کښله.

هغه یې په ونې پورې وتاړه. خاوند یې کوټې ته لاړ. د واسلینو ډبلی یې راوړ. د سپي د غاړې ټپونه یې پرېمینځل او بیا یې په واسلینو غوړ کړل.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسته سپي هڅه وکړه چې خپل ټپونه وڅټي ځکه چې د هغه په ناړو کې داسې مواد شته چې زخم رغوي او درد یې کراروي. خو چې هر څه یې کول ژبه یې ټپونو ته نه رسېدله. ډنګره سپۍ لرې ولاړه وه او ورته کتل یې.

د وړې سپۍ زړه پرې وسو. ورنژدې شوه. په وېرېدلي غږ یې وویل : زه یې درته وڅټم ؟

سپي چې له درده تاوېده راتاوېده کېناست او ویې ویل: ډېر خوږېږي.

سپۍ د هغه ټپونه تر هغې وڅټل چې سپی ویده شو.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مازدیگر چې هغه راویښ شو مخې ته یې د شیدو ډک تالی ایښی و. ژبه یې په شیدو کې ډوبه کړه خو بېرته یې سر پورته کړ. سپی ته یې ورناړې کړې: راشه شیدې وڅښه.

سپی وویل : نه ، دا خو ستا برخه ده. تا به پیسې ګټلې وي.

سپي وویل : ما جنګ بایلود. نن مې پیسې نه دي ګټلې. خو ستا ملګرتیا مې وګټله. نور به زه او ته دواړه په یوه کاسه کې ډوډۍ خورو.

څو شېبې وروسته دوې ژبې د شیدو په تالي کې غوټه وې ، یوه د سپي او بله د سپی.



Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**